الله تبارک و تعالی به جنتیانو ته ووایي: اې جنتیانو؟ هغوی به ووایي: مونږ دې پرله پسې امر پر ځای کولو ته تیار یو زمونږ ربه! او پرلپسې پرې خوښ یو، نو وبه وایي: آیا راضي یاست؟ هغوی به ووایي: مونږ به ولې نه راضي کیږو پداسې حال کې چې مونږ ته دې دومره څه راکړي چې خپلو هېڅ مخلوقاتو ته دې نه دي ورکړي؟

له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «الله تبارک و تعالی به جنتیانو ته ووایي: اې جنتیانو؟ هغوی به ووایي: مونږ دې پرله پسې امر پر ځای کولو ته تیار یو زمونږ ربه! او پرلپسې پرې خوښ یو، نو وبه وایي: آیا راضي یاست؟ هغوی به ووایي: مونږ به ولې نه راضي کیږو پداسې حال کې چې مونږ ته دې دومره څه راکړي چې خپلو هېڅ مخلوقاتو ته دې نه دي ورکړي؟ نو وبه وایي: زه به تاسو ته له دې نه هم زیات غوره څه درکړم؟ هغوی به ووایي: اې ربه! لدې به نور کوم څه زیات غوره وي؟ هغه به وفرمایي: زه به تل له تاسو څخه د تل لپاره راضي یم او هېڅکله به درڅخه ناراضه نه شم.»

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې الله تعالی به جنتیانو ته په جنت کې وایي چې: اې جنتیانو، نو هغوی به ورته په ځواب کې ووایي: لبيك ربَّنا وسعديك، یعنې اې ربه! ستا امر منلو ته پرلپسې چمتو یم او په منلو یې خوښ یم. نو هغوی به ورته ووایي: آیا راضي یاست؟ نو هغوی به ووایي: هو راضي یو؛ او ولې به نه راضي کیږو پداسې حال کې چې مونږ ته دې دومره څه راکړي چې له خپلو مخلوقاتو څخه دې هېڅا ته ندي ورکړي! نو الله پاک به ووایي: آیا لدې څخه غوره څه درنکړم؟ هغوی وویل: اې ربه، له دې څخه به څه غوره وي؟! نو وبه وایي: زه به تل له تاسو خوشحاله یم؛ او هېڅکله به له دې وروسته پر تاسې غصه نه شم.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8343